۲۱ لاربنود

# پر قراردادیانو باندې موضوعي مالیه

منل خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست

ریاست عمومی عواید

Afghanistan Revenue Department

## سریزه

هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې د یو قرارداد لاندې مواد، لوازم، ساختماني خدمتونه او نور خدمتونه وړاندې کوي، د ۱۳۸۷ کال عایداتو باندې مالیاتو قانون د ۷۲ مادې سره سم قراردادي ته د ورکړې وړ مبلغ د سرجمع څخه د موضوعي مالیې په وضع کولو مکلف دي. هغه حقیقي اشخاص چې د دې قانون د ۱۷ مادې ۱ فقرې د احکامو سره سم د مالیې وړ معاش لاسته راوړي، ددې حکم څخه مستثنی دي. ځکه چې هغوی کارکوونکي ګڼل کیږي او پر معاش باندې موضوعي مالیې تابع دي (پر معاش باندې موضوعي مالیې په اړه لازیاتو معلوماتو لپاره ۵ لارښود وګورئ).

## قرارداد څه ته وايي؟

قرارداد ددوه اویا څو اړخونو ترمنځ توافق دی، کوم چې دقانون مطابق د تطبیق وړ دی. دخدمتونو یا مالونو دخرڅولو او اخیستلو اړوند سوداګریزه معامله د خرڅوونکي او اخیستونکي ترمنځ یوقرارداد دی د سوداګریزو معاملو وړاندیز او منل اویا دمالونو یا خدمتونو عرضه کول یا وړاندې کول قرارادادي معامله منځ ته راوړي. دغه ډول معامله کیدای شي په لیکلې او یا په شفاهي بڼه وي او ورکړه یې په نغدي یا د اعتبار په بڼه صورت ونیسي. سوداګریزه معامله یو قرارداد دی او د ۱۳۸۷کال پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون د ۷۲ مادې دموضوعي مالیې حکمونه ورباندې دتطبیق وړ دي.

## ایا دقراردادي دموضوعي مالیې لپاره کوم ټاکل شوی حد شته؟

د ۷۲ مادې مطابق د قراردادي دموضوعي مالیې لپاره تعیین شوی حد لږ ترلږه ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ دی. تردغه مبلغ څخه کمې معاملې دقرارداد دموضوعي مالیې نه تابع کیږي. مګر که چیرې حکمي یا حقیقي شخص ته په یو مالي کال کې بشپړې ورکړې د تعیین شوي حد څخه زیاد ښت وکړي په دې صورت کې باید دټولو ورکړو څخه مالیه وضع شي.

## څوک باید موضوعي مالیه وضع کړي؟

د ۱۳۸۷ کال عایداتو باندې مالیاتو قانون ۷۲ ماده، دولتي ادارې، ښاروالۍ. دولتي نهادونه، د خصوصي سکتور ادارې او تشبثات او نور اشخاص مکلف دي تر څو د ټولو حقیقي او حکمي اشخاصو څخه چې د

## یادونه

فورمې او لارښودونه د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست څخه په وړیا ډول ترلاسه کیدای شي او همداراز د طی مراحل، ارزیابۍ او د مالیاتو د تحصیل په مهال هیڅ ډول فیس او حق الزحمه نه اخیستل کیږي.

چې د قرارداد د شرائطو لاندې مواد، لوازم، ساختماني خدمتونه او نور خدمتونه وړاندې کوي، ماليه وضع کړي.

## د موضوعي ماليې نورم په څه ډول دی؟

## د سوداګرۍ جواز لرونکي قراردادیان

که چيرې قراردادي د سوداګرۍ جواز لرونکی وي، په دې صورت کې د موضوعي ماليې نورم قراردادي ته د تادياتو د سرجمع څخه ۲% ده. د سوداګرۍ جواز لرونکي قراردادیانوته به دموضوعي ماليه لپاره د هغوی په مالياتي اظهارنامه کې د وړاندې ورکړو په توګه مجرائي ورکول کيږي.

بيلګه: د افغان د لاسي صنايعو شرکت په ۱۳۸۸ کال کې په خپله يوه فابرکه کې ۵۰،۰۰۰ افغانيو په لګښت د يو اتاق جوړولو قرارداد د صابر ساختماني شرکت سره لاسليک کړ. د صابر ساختماني شرکت يو راجستر شوی شرکت دی او د سوداګرۍ جواز لرونکی دی. کله چې د افغان د صنايعو شرکت د قرارداد پيسې د صابر ساختماني شرکت ته ورکوي، د ۵۰،۰۰۰ افغانيو څخه ۲ په سلو کې (50،000 × ۲، ۰ = 1،000) موضوعي ماليه وضع کوي. د افغان د لاسي صنايعو شرکت د صابر ساختماني شرکت ته ۴۹،۰۰۰ افغانۍ ورکوي او پاتې ۱۰۰۰ نورې افغانۍ د موضوعي ماليې په توګه له ځان سره ساتي. د صابر ساختماني شرکت د ۱۳۸۹ کال اظهارنامې د دوړاندې کولو پر مهال ۱۰۰۰ افغانۍ د وړاندې ورکړې ماليې په توګه مجرائي ترلاسه کوي.

## د سوداګرۍ جواز نه لرونکي قراردادیان

که چيرې قراردادي د سوداګرۍ جواز و نلري په دې صورت کې موضوعي ماليه قراردادي ته د ورکړې وړ مبلغ څخه ۷ په سلو کې (۷٪) ده. د هغو قراردادونو موضوعي ماليه چې د سوداګرۍ جواز نه لري، وروستنۍ ماليه ګڼل کيږي.

بيلګه: د افغان لاسي صنايعو شرکت د يو رنګمالۍ شرکت سره د خپل مرکزي دفتر د رنګمالۍ قرارداد د ۵،۰۰۰ افغانيو په لګښت لاسليک کوي. د رنګمالۍ ياد شوی شرکت سوداګريز جواز نه لري، د افغان د لاسي صنايعو شرکت مکلف دی تر څو د رنګمالۍ شرکت ته د ورکړې وړ پيسو

### يادونه

دغه حکم مطابق بايد قراردادیان د لاسليک شوي قرارداد يو نقل د قرارداد دلاسليک دنيټې څخه وروسته تر پنځلس ورځو پورې، د عوايدو دلوی رياست يا دمستوفيتونو سيمه ييز دفترونو ته وسپاري.

ثخه ۷ په سلو کې (۷٪) موضوعي ماليه وضع کړي (5،000 × ۷ ، ۰ په سلو کې = 350). د افغان د لاسي صنايعو شرکت ۴،۲۵۰ افغانۍ د رنګمالۍ شرکت ته ورکوي په داسې حال کې چې ۳۵۰ پاتې افغانۍ د موضوعي ماليې په توګه له ځان سره ساتي. ياده شوې ماليه د شرکت لپاره د نهائي ماليې په توګه ګڼل کيږي. په دې صورت کې حتی که د رنګمالۍ شرکت اظهارليک هم ډکه وړاندې کړي، موضوعي ماليه د مجرائی وړ نه ده.

## څه مهال بايد ماليه ورکړل شي؟

قراردادي ته د ورکړو ثخه په يوه مياشت کې وضع شوې موضوعي ماليه بايد دراتلونکې مياشتې ترلسمې نيټې پورې د دولت اړوند بانکي حساب ته انتقال شي.

بيلګه:  د افغان د لاسي صنايعو شرکت د ۱۳۹۰ کال دغبرګولي په ۱۵ د صابر د شرکت پيسې ورکوي. د افغان لاسي صنايعو شرکت مکلف دی ترڅو د ۱۳۹۰ کال د چنګاښ تر ۱۰نيټې  پورې اظهارليک وړاندې او موضوعي ماليه تاديه کړي.

که چيرې په ټاکلي مهال مالياتي اظهارليک وړاندې نشي او موضوعي ماليه تاديه نکړل شي څه پيښيږي؟

د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو باندې دمالياتو قانون د اظهارليک په وړاندې کوونې او د مالياتو په ورکړه کې د تاخير په صورت کې د جريمو په اړه صراحت لري. په دې اړه مالياتي نورمونه د ماليه ورکوونکي ډول او شرائطو پورې اړه لري. د لازياتو معلوماتو لپاره ۲۲ لارښود – اضافي ماليې او جرايم- وګورئ.

## که ماليه وضع نشي څه پيښيږي؟

د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو باندې دمالياتو قانون د اضافي ماليو د وضع په اړه د هغه مبلغ چې بايد په موضوعي شکل وضع شوی وای، لږ تر لږه ۱۰ په سلو کې په اړه صراحت لري که چيرې دموضوعي ماليې نه وضع کيدل د موجه دليل پر بنسټ نه وي. په حساسو حالاتو کې د اضافي ماليې د وضع سربيره، ماليه ورکوونکی څارنوالۍ ته معرفي او کيدای شي د ماليې او جريمې د ورکړې تابع شي او يا حتی په حبس محکوم شي. د لازياتو معلوماتو لپاره ۲۲ لارښود – اضافي ماليې او جرايم- وګورئ.

## کوم ځای کې باید اظهارنامه وړاندې او ورکړې سرته ورسیږې؟

تاسې مکلف یاست ترڅو دغه فورمه د افغانستان بانک کې ارائه او هملته ورکړه ترسره کړئ. د یاد شوي بانک صراف د فورمې دوه نقله (سپین او شین) له ځانه سره ساتي، او دوه نقله (ژیړ او آبي) یې تاسې ته درکوي. تاسې باید ژیړ نقل له ځانه سره وساتئ او آبي نقل ئې قراردادي ته ورکړئ.

## مالیاتو اړوند مالومات

د عوایدو لوی ریاست اداري او مستوفیتونه مالیه ورکوونکو ته په وړیا توګه فورمې، لارښودونه او لارښوونې وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوې او همداراز له یوه نوي ویب پاڼې http://www.ard.gov.af څخه د راښکته کیدو وړ بڼو ترلاسه کیدای شي. یاده ویب پاڼه د عوایدو د لوی ریاست او مستوفیتونو موقعیتونه، د اړیکو شمیرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. مالیه ورکوونکي همداراز کولای شي نور ګټور مالومات لکه عامې خبرتیاوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي مالیې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه شیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډیره آسانتیا په برخه کوي.

### یادونه

په http://www.ard.gov.af کې دمالیه ورکوونکي دمعلوماتو پاڼه دمالیه ورکوونکي لپاره استانتیا منځته راوړي چې دخپلو اړتیاؤ دپوره کولو په موخه ګټور معلومات لاسته راوړي. په دغه پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولای شي د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې او طرزالعملونه، فورمې اودهغوئ دبشپړولو لپاره لارښوونې، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د موضوعي مالیې په هکله پوښتنې اوځوابونه او داسې نور ترلاسه کړي. همدارنګه په دغه برېښنا پاڼه کې پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون تعلیماتنامه هم شتون لري دغه تعلیماتنامه د اړوندو مقرراتو ترڅنګه د قانون هره ماده زیاتره وخت د کومکي بیلګو په مرسته، په جلا توګه تشریح کوي.

001E 01 03 2012

۵